
# شوقِ مدینه

**23-June-2022**

هفته وار د سنّتو ډکه اجتماع کښې کیدونکے

د سنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)



په 23 جون، 2022ء د پاکستان په هفتنو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# شوقِ مدينه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰه
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاك فضيلت

د مشهور صحابئ رسول حضرت ابو هريره رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے چې د الله پاک آخري نبـي، رسولِ هاشمي، مکي مدني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: څوک چې زما په قبر په ما سلام عَرض کړي، الله پاک به په هغه يوه فرښته مقرره کړي، کومه چې به ما ته د هغه سلام هم را رسوي او د هغه د دُنيا او آخرت کفايت [يعني پوره والے] به هم کوي او دې سره سره به زه د قيامت په ورځ د هغه (سلام وراندې کوونکي) شفاعت هم کووم.[1]



1…شعب الايمان، باب في تعظيم النبي، جلد:2، صفحه:218، حديث:1583ملتقطاً۔

اے عاشقانِ رسول! ډير عظيم سَعادت دے چې بنده ته د مدينے منورې د حاضرئ موقع نصيب شي ۞ د کوم خوږ آقا مدني مصطفٰی صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې مونږه کلمه وايو ۞ د چا مينه چې مو زړه کښې ساتلې ده ۞ د هغه آقا کريم، رَؤوفٌ رَّحيم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د روضے مبارکې زيارت کولو سعادت نصيب شي ۞ شنې جالئ وي ۞ لاس په نامه ۞ تيټ سر ۞ په زړه کښې د رسولُ الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ياد ساتلو سره ۞ د اوښکو بهيدو سره ۞ په ډيره مينه او شوق خپل آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په پاک دربار کښې سلام وړاندې کوو، يقين اوکړئ! دا سعادت ميلاويدل هم ډير لوئ انعام دے، کوم نيک بخته ته چې په ژوند کښې يو ځل هم دا موقع نصيب شي، يقيناً هغه ډير خوش قسمته دے.

خو قربان شم! د کريم کرم نه اودريږي، څوک چې کرم والا وي د هغوئي د کرم څه حد نه وي. يو خو دا سعادت ډير لوئ دے چې بنده ته هلته د حاضرئ موقع نصيب شي، د سلام عرض کولو سعادت ميلاؤ شي، دې سره سره په سعادت بياموندونکي نور کرم دا هم وي چې د آقا کريم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په برکت الله پاک د هغه بنده سره يوه فرښته مقرره کړې کومه چې د سرورِ عالم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خدمت کښې د هغه سلام هم وړاندې کوي او د سلام عرض کوونکي د دُنيا او آخرت کارونو

کنبې کفايت هم کوي، دا پوره نه ده، په ده نور لوئ کرم دا وي چې سَروَرِ عالم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د قيامت په ورځ (د سلام عرض کوونکي) شفاعت هم کوي.

| | |
|---|---|
| عَجَب کرم شہِ والا تبار کرتے ہیں | کہ نا اُمّیدوں کو اُمّیدوار کرتے ہیں |
| مجھے فَسُردَگیٔ بخت کا اَلَم کیا ہو | وہ ایک دَم میں خِزاں کو بہار کرتے ہیں |
| جو خوش نصیب یہاں خاکِ دَر پہ بیٹھتے ہیں | جلوسِ مَسندِ شاہی سے عار کرتے ہیں[1] |

**وضاحت**: زمونږ د آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کرم هم د کمال دے چې نا اُميدو ته اُميد عطا کوي. زما سره د بد نصيبئ غم ولې دے، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په يو دَم کنبې خزان سپرلے (يعني بد قسمته بنه) کوي، هغه نيک بخته چا ته چې د مدينے منورې په خاوره کنبيناستل نصيب شي، هغوئي د بادشاهانو د تخت پرواه هم نه کوي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ (يعني) رښتينے نِيَّت د ټولو نه افضل عمل دے.[2]



[1]...ذوقِ نعت، صفحه:194۔

[2]...جامع صغير، صفحه:81، حديث:1284۔

www.dawateislami.net

اے عاشقانِ رسول! د هر کار نه مخکښې د ښه ښه نيتونو کولو عادت جوړ کړئ چې ښه نيت بنده جنت ته بوځي. د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مثلاً نِيَّت اوکړئ چې

۞ د علمِ دين زده کولو د پاره به پوره بيان اورم ۞ په ادب به کښينم ۞ د خپلې اصلاح د پاره به بيان اورم ۞ چې څه واورم هغه به نورو ته د رسولو کوشش کوو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د حج د سپرلو نه ډك موسم روان دے، د حج ورځې ورځ په ورځ رانزدې کيږي ۞ نيک بخته، سَعادت مند عاشقانِ رسول به د حج سعادت حاصلوي ۞ د کعبې طواف به کيږي ۞ د صفا او مروه سَعي به کيږي ۞ منٰى کښې حاضري ۞ ميدانِ عرفات او مزدلفه کښې به قيام کيږي، د دې ټولو سعادتونو حاصلولو نه پس به عاشقانِ رسول په زړونو کښې د عشقِ رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شمعې بلولو ۞ په سترګو کښې د اوښکو ۞ په سلګو سلګو ۞ په خوشحالئ کښې د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دربارِ عَالي شان کښې، د نوراني روضے حاضري کوي، دا به څومره نيک بخته خلق وي چا ته چې د دواړو جهانونو سردار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل در

کښېږ د حاضرۍ اجازت عطا کړي، کاش....! هغه ورځ هم راشي، مونږ ګنهګارانو ته هم دا سعادت حاصل شي، د مدينے نه بلنه راشي او مونږ ګنهګارانو ته هم د مديني منورې د حاضرۍ سعادت نصيب شي.

ہے آرزُو یہ دِل کی، میں بھی مدینے جاؤں — سلطانِ دوجہاں کو سب حالِ دِل دِکھاؤں
کاٹوں ہزار چکر طیبہ کی ہر گلی کے — یُوں ہی گزار دُوں میں ایّام زِندگی کے
پھولوں پہ جاں نثاروں، کانٹوں پہ دِل کو وارُوں — ذرّوں کو دُوں سلامی، دَر کی کروں غُلامی
دِیوار و دَر کو چُوموں، قدموں پہ سَر کو رَکھ دُوں — روضے کو دیکھ کر میں روتا رہوں برابر
حضور ایسا کوئی انتظام ہو جائے — سلام کے لئے حاضر غلام ہو جائے

عاشقِ مدينه، اميرِ اهلِسنّت حضرت علامه مولانا محمد الياس عطّار، قادري، رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِيَه د خپل کريم آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دربار کښې اِستِغاثَه وړاندې کوي.

بُلالو پھر مجھے اے شاہِ بحر و بَر مدینے میں — میں پھر روتا ہوا آؤں ترے دَر پر مدینے میں
سلامِ شوق کہنا حاجیو! میرا بھی رَو رَو کر — تمہیں آئے نظر جب روضۂ انور مدینے میں
وہاں اک سانس مل جائے یہی ہے زِیست کا حاصل — وہ قسمت کا دھنی ہے جو گیا دم بھر مدینے میں[1]

الله دې کړي چې مونږ ته هم دا سَعَادَت نصيب شي، د مدينے منورې د حاضرۍ اجازت ميلاؤ شي او په مدينه منوره کښې حاضر شو او د شفاعت کولو سوال مو نصيب شي، يقين اوکړئ! د مدينے منورې



[1]... وسائل بخشش، صفحه:282280ملتقطاً۔

حاضري ډېر لوئ سَعادت دے.

## مجرمان په رابللو راغلي دي

د مسلمانانو څلورم خليفه، حضرت عَلِـيُّ المُرتَضٰی شيرِ خدا رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: د نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ظاهري دُنيا نه د پرده کولو اوس درې ورځې شوې وے، يو بَدوي (يعني د عربو د کلي اوسيدونکے) مزار ته حاضر شو، هغه ځان په قبر مبارک راغوزار کړو او د مزار مبارکه خاوره ئې په خپل سر واچوله او عرض ئې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! څه چې تاسو د الله پاک نه اوريدلي دي، هغه مونږه ستاسو نه اوريدلي دي، يا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! الله پاک فرمائي:

وَ لَوْ اَنَّهُمْ اِذْ ظَّلَمُوْۤا اَنْفُسَهُمْ جَآءُوْكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللّٰهَ وَ اسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُوْلُ لَوَجَدُوا اللّٰهَ تَوَّابًا رَّحِیْمًا ﴿۶۴﴾

(پارہ:5،سورۃ نساء:64)

**[مفهوم]ترجَمه کنزُالايمان:** او کله چې هغوئي په خپلو ځانونو باندې ظلم اوکړي نو اے محبوبه ستا په خدمت کښې حاضر شي او بيا د الله پاک نه معافي اوغواړي او رسول د هغوئي شفاعت اوکړي نو ضرور الله به ډير توبه قبلوونکے مهربانه اومومي.

هغه اَعرابي عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! ما په خپل

ځان باندې ظلم کړے دے (يعني زما نه ګناه شوې ده) او ستاسو په دربار کښې حاضر شوے يم چې تاسو صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما د پاره اِستِغفار (يعني د بخښنې دعا) اوکړئ.

سُبْحٰنَ اللّٰه! د آقا کريم، رَؤُوفٌ رَّحيم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کرم نه قربان شم! دلته اَعرابي عرض اوکړو او هلته د قبر مبارک نه آواز راغلے: قَدْ غُفِرَ لَكَ ستا ګناهونه اوبخښلے شو.[1]

مجرم بُلائے آئے ہیں جَآءُوْكَ ہے گواہ | پھر رَد ہو کب یہ شان کریموں کے در کی ہے[2]

**وضاحت**: يعني په قرآنِ پاک کښې دي: کله چې هغوئي په خپلو ځانونو باندې ظلم اوکړي نو اے محبوبه! ستا په خدمت کښې حاضر شي او بيا د الله نه معافي اوغواړي او رسول د هغوئي شفاعت اوکړي نو ضرور به الله پاک ډير توبه قبلوونکے مهربانه بياموي. قرآنِ پاک خو بخپله ګنهګاران د خپل حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دربار ته بلي او د کريمانو دا شان نه دے چې خپل دربار ته ئې اوغواړي او خالي لاسونه ئې واپس کړي.

تجھ سے چھپاؤں مُنھ تو کروں کس کے سامنے | کیا اور بھی کسی سے تَوَقُّع نَظر کی ہے[3]

**وضاحت**: اے حبيبِ کبريا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ستا نه مخ پټولو سره به زه د



[1]...کنز العمال، کتاب الاذکار، جز:2، جلد:1، صفحه:166، حديث:4319۔

[2]... حدائق بخشش، صفحه:205۔

[3]... حدائق بخشش، صفحه: 226۔

www.dawateislami.net

چا مخې ته خپل حاجت وړم، څوک به زما تور مخ ويني، آيا ستاسو نه علاوه زمونږ د پاره بل څوک شته؟ د چا نه چې مونږه د مهربانئ او توجه طمع اوساتو، څوک چې زمونږ خالي څولئ ډکې کړي؟ نه، ستاسو نه علاوه بل هيڅ څوک نشته.

## د مغفرت چيتهئ ميلاؤ شوه

دغه شان يو روايت علاّمه ابن جوزي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په عُيون الحِكايات کښې نقل کړے دے: حضرت محمد بن حَرب هِلالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيانوي: يوه ورځ زه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په روضه مبارکه کښې حاضر ووم، ما اوليدل! يو اَعرابي ( يعني د عربو د کلي اوسيدونکے) دربار ته حاضر شو او د محبوبِ رَبِّ اکبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دربار کښې ئې عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! الله پاک چې په تاسو کوم رښتونے کتاب نازل فرمائيلے دے، په هغه قرآنِ کريم کښې الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ لَوْ اَنَّهُمْ اِذْ ظَّلَمُوْۤا اَنْفُسَهُمْ جَآءُوْكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللّٰهَ وَ اسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُوْلُ لَوَجَدُوا اللّٰهَ تَوَّابًا رَّحِيْمًا ﴿۶۴﴾ (پارہ:5،سورۂ نساء:64) | [مفهوم] ترجَمه کنزُالايمان: او که چې هغوئي په خپلو ځانونو باندې ظلم اوکړي نو اے محبوبه ستا په خدمت کښې حاضر شي او بيا د الله پاک نه معافي اوغواړي او رسول د هغوئي شفاعت اوکړي نو ضرور الله به ډير توبه قبلوونکے مهربانه اوومي. |

هغه اَعرابي د دې آيت لوستو نه پس عرض اوکړو: اے زما آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زه د خپلو ګناهونو د معافئ د پاره ستاسو په دربار کښې حاضر شوے يم، تاسو د الله پاک په دربار کښې خپل شَفِيع (يعني شفاعت کوونکے) جوړووم.

دې وئيلو سره هغه عاشقِ رسول اعرابي په ژړا شو او د هغوئي په ژبه دا شعرونه راغلل:

يَا خَيْرَ مَنْ دُفِنَتْ بِالْقَاعِ اَعْظُمُهٗ فَطَابَ مِنْ طِيْبِهِنَّ الْقَاعُ وَالْاَكَمُ

رُوْحِی الْفِدَاءُ لِقَبْرٍ اَنْتَ سَاكِنُهٗ فِيْهِ الْعِفَافُ وَفِيْهِ الْجُوْدُ وَالْكَرَمُ

**وضاحت**: اے هغه بهترينه ذاته! د چا مبارک وجود چې په دې زمکه کښې دفن کړے شو نو د دې په ښه والي او پاک والي سره ميدانونه او غونډئ معطرې شوې. زما ځان دې قربان وي په دې قبر باندې په کوم کښې چې تاسو صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم آرام کوئ، په چا کښې چې د پاک والي، سخاوت او د عفو و کرم ډيره زياته قيمتي خزانه ده.

هغه عاشقِ رسول تر ډيره وخته پورې ژړل او بيا بيا ئې دغه شعرونه وئيل، بيا ئې د خپلو ګناهونو معافي اوغوښتله او د اوښکو ډکو سترګو سره رخصت شو، حضرت محمد بن حَرب هِلالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: کله چې زه اوده شوم نو خوب کښې مې د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زيارت اوکړو،

هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ماته اوفرمائيل: اِلْحَقِ الرَّجُلَ فَبَشِّرْهُ اَنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى قَدْ غَفَرَ لَهٗ بِشَفَاعَتِيْ يعني د هغه آعرابي سره ميلاؤ شه او هغه له زيرے ورکړه چې الله پاک زما د شفاعت په برکت سره هغه آعرابي بخښلے دے.[1]

## د اُمّت په حق کښې اوس هم کرم فرمائي

سُبْحٰنَ اللّٰه! اے عاشقانِ رسول! په دې دوارو واقعاتو باندې لږ غور اوکړئ! يوه واقعه د صحابئ رسول ده، بله واقعه د يو نيک بخته عاشقِ رسول ده، د دې نه ښکاره پته لګي چې زمونږه آقا مکي مدني مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپل اُمّت سره څومره مينه کوي، څومره رحيم دے، څومره کريم دے، لږ سوچ خو اوکړئ! کله چې زمونږه آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دنيا ته تشريف راوړو، نو هغه وخت هم رَبِّ هَبْ لِي اُمَّتِي د هغوئي په ژبه مبارکه باندې وو، تر څو پورې چې ئې په دُنيا کښې ژوند کولو، د اُمّت په غم کښې به غمژن وو، کله چې ئې د ظاهري دُنيا نه پرده اوفرمائيله، بيا هم رَبِّ هَبْ لِي اُمَّتِي د هغوئي په ژبه باندې وو، او اوس چې په مزار مبارک کښې دے، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! اوس هم ژوندے دے، کرم هم کوي، د ګنهګارانو بخښنه هم کوي، شفاعت هم کوي، د اُمّت د حالاتو نه هم خبردار دے او مدد ئې هم کوي.



[1]... عيون الحكايات، جلد:2، صفحه:308۔

جن کا نہ بھاؤ کوئی دُنیا میں پوچھتا ہو     سینے سے ان کو آقا اپنے لگا رہے ہیں

اُمّت کے حال سے ہیں آگاہ ہر گھڑی آپ     خوابوں میں آرہے ہیں، بگڑی بنا رہے ہیں[1]

امامِ اهلِسنت، امامِ عشق و محبت، شاه امام احمد رضا خان رَحمَةُاللهِ عَلَيه هم كمال اوكړو، هغوئي ليكي:

دُنیا مزار حشر جہاں ہیں غفور ہیں     ہر منزل اپنے چاند کی منزلِ غَفر کی ہے[2]

**وضاحت**: دا سپوږمۍ چې په آسمان کښې راخیژي، د دې سپوږمۍ مختلف منزلونه دي، دې کښې د یو منزل نوم غَفر دے. کله چې سپوږمۍ په منزلِ غَفر کښې وي، هغه وخت ډیره مبارکه ګڼړلے شي،

اعلٰـی حضرت رَحمَةُاللهِ عَلَيه هغه طرف ته اشاره کوي او فرمائي: دا سپوږمۍ چې آسمان کښې راخیژي، دا خو کله کله په منزلِ غَفر کښې وي خو د ماهِ طیبه، سلطانِ انبیاء صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خبره بدله ده، دا هغه مبارکه سپوږمۍ ده چې هر وخت په منزلِ غَفر کښې وي، د دې هر منزل منزلِ غَفر دے، که دنیا کښې وي، بیا هم غَفور (یعني بخښلو والا) دے، که مزار شریف کښې وي، بیا هم غَفور دے او په آخرت کښې چې هم کله د محشر میدان ته تشریف راوړي، بیا به هم بخښنه کوي او د الله پاک په عطا سره به شفاعت کوي او خپل غلامان به جنّت ته بوځي.



[1]... وسائل بخشش، صفحه:298۔

[2]... حدائق بخشش، صفحه:209۔

www.dawateislami.net

## راغلے يم جَآءُوْکَ اوريدو سره

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! کاش کاش کاش....! مونږ ته هم موقع نصيب شي، مونږه هم مديني منورې ته حاضر شو، د ګنبد خضرا په سوري کښې د سرو زرو جنګلو مخې ته په تيټ سر، لاس په نامه، دربارِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې د شفاعت سوال اوکړو. مونږه هم عرض اوکړو: يَا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! په ګناهونو ککړ، د سر نه بنپو پورې په ګناهونو کښې ډوب، ستاسو غلام په دربار کښې حاضر دے، د بخښنې خيرات غواړي.

میں کر کے ستم اپنی جاں پر قرآن سے جَآءُوْکَ سُن کر
آیا ہوں بہت شرمندہ سا سرکار توجہ فرمائیں، سرکار توجہ فرمائیں

اَسْئَلُکَ الشَّفَاعَةَ يَا رَسُوْلَ الله

يَارسولَ الله ! زه ستاسو د شفاعت سوالي يم

اَسْئَلُکَ الشَّفَاعَةَ يَا رَسُوْلَ الله

يَارسولَ الله! زه ستاسو د شفاعت سوالي يم

اَسْئَلُکَ الشَّفَاعَةَ يَا رَسُوْلَ الله

يَارسولَ الله! زه ستاسو د شفاعت سوالي يم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د مديني منورې د حاضرۍ د پاره تادي کوئ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا کوم آيت شريف چې مونږ په دوارو واقعاتو کښې واوريدو چې الله پاک په قرآن کريم کښې فرمائي:

وَ لَوْ اَنَّهُمْ اِذْ ظَّلَمُوْۤا اَنْفُسَهُمْ جَآءُوْكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللّٰهَ وَ اسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُوْلُ لَوَجَدُوا اللّٰهَ تَوَّابًا رَّحِيْمًا ﴿۶۴﴾

(پاره:5،سورۂ نساء:64)

**[مفهوم] ترجَمه کنزُالایمان:** او کله چې هغوئي په خپلو ځانونو باندې ظلم اوکړي نو اے محبوبه ستا په خدمت کښې حاضر شي او بيا د الله پاک نه معافي اوغواړي او رسول د هغوئي شفاعت اوکړي نو ضرور الله به ډير توبه قبلوونکے مهربانه اومومي.

په دې آيت شريف کښې مونږ ته د ګناهونو د بخښنې او د مَغفِرَت يوه طريقه ښودلے شوې ده چې کله بنده ګناه اوکړي نو هغه له پکار دي چې په دربارِ رسالت کښې حاضر شي، د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دربار کښې د حاضريدو سره بخپله هم توبه اوباسي، د الله پاک نه د بخښنې سوال اوکړي او د دې سره سره رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم د دې ګنهګار د پاره د بخښنې دعا اوکړي نو ضرور الله پاک به توبه قبلوونکے او بخښوونکے بيامومي. د دې نه دا پته اولګيده! چې مدينه منوره کښې د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د روضے مبارکې مخې ته د حاضريدو سره د

بخښنې خير ميلاويږي.

يو بل آيت کښې الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ سَارِعُوْۤا اِلٰى مَغْفِرَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَ جَنَّةٍ (پاره:4،سورۂ آلِ عمران:133) | [مفهوم] ترجمۂ کنز العرفان: او د خپل رَب د بخښنې او د جنت په لور منډې وهئ. |

د اعلیٰ حضرت والد محترم مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په دې ځائے کښې ډير ايمان تازه کوونکے مدني ګل ورکړے دے، د هغوئي د فرمان خلاصه ده چې دا دواړه آيتونه ميلاؤ کړئ! په وړومبي آيت کښې الله پاک دا وئيلي دي چې مدينه منوره کښې د حاضريدو، توبې ويستلو سره، د رسولِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شفاعت په برکت مغفرت نصيب کيږي، په دويم آيت کښې رَبِّ کريم فرمائي: د رَبّ د مغفرت طرف ته په منډه منډه ځان رسوئ، د دې دواړو آيتونو ميلاوهلو نتيجه به دا را اوځي چې قرآن پاک مونږ ته دا تعليم راکوي: اے ګنهګاربنده ګانو! اے د محبوب اُمتيانو! اے عاشقانِ رسول! کومو چې په خپلو ځانونو ظلم کړے دے، بالکل ناوخته کوئ مه! ډير په تادئ سره د خپل خوږ محبوب آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قدمونو ته ځان رسوئ! چې هلته به تاسو ته د بخښنې خيرات ميلاؤ شي.[1]

323

[1] ...جواہر البیان فی اسرار الارکان، صفحه:204۔

سُبۡحٰنَ اللّٰه! پته اولګیده! د مدينې منورې د حاضرئ د پاره تادي کول د قرآني آيتونو مطلب دے، ځکه مونږ له پکار دي چې مونږه د مدينې منورې د حاضرئ د پاره تادي اوکړو، څومره چې زر کيدے شي هلته د رسيدو کوشش اوکړو، چا له چې الله پاک وَس ورکړے دے، څوک چې هلته رسيدے شي، هغوئي خو دې مدينې منورې ته حاضرئ کښې بالکل سستي نه کوي، کله چې موقع ميلاؤ شي، حاضريدې اوکړي او د چا چې وَس نه رسي، د چا سره چې مال او دولت نشته، ظاهري اسباب نشته، هغوئي له هم پکار دي چې د مدينې د حاضرئ شوق زيات کړي، د مدينې منورې د حاضرئ د پاره دې په سينه کښې درد ساتي، ژاړي دې، دعاګانې دې غواړي، که چرې غوښتنه ربنتونې وه نو اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِیۡم! هر څه به ئې سم شي.

آه! پلّے زَر نہیں رَختِ سفر سَرور نہیں
تُم بُلالو تُم بُلانے پر ہو قادِر یانبی!

کِس طرح تَسکین دُوں گا میں دِلِ غمگین کو
رَہ گیا گر حَاضِری سے میں جو قاصِر یانبی!

آپ ہی اسباب آقا پھر مُہیّا کیجئے
پھر دِکھا دیجے مدینے کے مَنَاظِر یانبی! [1]

## د مدينې منورې حاضري واجبو ته نزدې ده

د اعلٰی حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د فرمان خلاصه ده: د دواړو جهانونو د



[1] ... وسائل بخشش، صفحه: 377376 ملتقطاً۔

www.dawateislami.net

سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم روضے مبارکې ته حاضري او د هغه ځائے د خاورې ښکلولو سعادت د ټولو مستحباتو نه اوچت او اهم بلکه واجبو ته نزدې دے.[1]

## فرښتې ورته هر کلے وائي

په جَذبُ الْقُلُوب کښې شيخِ محقق عَلَّامه عبد الحق محدثِ دهلوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نقل کوي: کله چې يو مسلمان د زيارت په نِيَّت مدينے منورې ته راځي نو فرښتې د رحمت په ډالو سره هغوئي ته هر کلے وائي.[2]

لاکھوں قُدسی ہیں کام خدمت پر | لاکھوں گردِ مزار پھرتے ہیں[3]

وضاحت: يعني د حضورِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خدمت د پاره په لکونو فرښتې حاضرې وي او په لکونو فرښتې د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د روضے مبارکې نه ګير چاپيره چکرې وهي چې کله به څه حکم راځي او مونږ به د خدمت د پاره حاضرې شو.

## شفاعت واجب شو.....!

په سنن دارِ قطني کښې روايت دے: د الله پاک رسول، رسولِ مقبول، صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: مَنْ زَارَ قَبْرِي وَجَبَتْ لَهُ شَفَاعَتِي چا چې زما د قبر

323

[1]... فتاوی رضويه، جلد:9، صفحه:538 مفهوماً۔
[2]... جذب القلوب، صفحه:211۔
[3]... حدائق بخشش، صفحه:100۔

زيارت اوکړو د هغوئي د پاره زما شفاعت واجب شو.[1]

طیبہ میں مر کے ٹھنڈے چلے جاؤ آنکھیں بند | سیدھی سڑک یہ شہرِ شفاعت نگر کی ہے[2]

**وضاحت:** يعني اے زائرينِ مدينه! دلته کښينئ او په دې دُرشل عمر تير کړئ او مطمئين شئ چې نيغ به جنت ته ځئ ځکه چې دا د جنت لاره ده.

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د اعلٰـى حضرت والدِ محترم مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديث لاندې دوه ايمان تازه کوونکي مدني ګلونه ذکر فرمائيلي دي، راځئ! د هغې خلاصه اورو:

## د ايمان د حفاظت يوه پخه ذريعه

**مدني ګل نمبر1:** دلته ذهن ته يو سوال راځي، هغه دا چې زمونږه خوږ آقا مکي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: **شَفَاعَتِيْ لِاَهْلِ الْكَبَائِرِ مِنْ اُمَّتِيْ** يعني زما شفاعت زما په اُمّت کښې د غټو ګناهونو کوونکو د پاره دے.[3] او يو روايت کښې دا هم دي چې تر څو زه خپل هر اُمَّتي د دوزخ نه اونه باسم او جنت ته ئې بونځم، تر هغه وخته پورې به زه نه راضي کيږم.[4]



[1] ...سنن دار قطنی، کتاب الحج، باب المواقیت، جلد:1، صفحه:217، حدیث:2669۔

[2] ...حدائق بخشش، صفحه: 222۔

[3] ...ابوداؤد، کتاب السنة، باب فی الشفاعة، صفحه:746، حدیث:4739۔

[4] ...سبل الهدی، الباب الثانی عشر، جلد:2، صفحه:272۔

www.dawateislami.net

د دې حديثونو نه پته لګي چې د هر ګنهګار مسلمان د پاره شفاعت دے، کله چې د هر ګنهګار د پاره شفاعت دے، که هغه مدينے منورې ته تلے وي او که نه نو بيا د روضے مبارکې د زيارت کوونکي څه فضيلت دے؟ اوس **جواب** واورئ: بعضې عُلمائے کرامو دا ارشاد فرمائيلي دي چې کوم عام ګنهګار دي، څوک چې مدينے منورې ته نه دي تلي، د هغوئي د پاره به عمومي شفاعت وي خو څوک چې مدينې منورې ته تلي وي، د هغوئي د پاره به خاص شفاعت وي، د حشر د ميدان د خطرناکو سختو نه به د هغوئي حفاظت کولے شي، دوئي به جنت ته بے حسابه لاړ شي، دوئي به جنت کښې اوچتې درجې بياموي، دوئي ته به د الله پاک خاص ديدار نصيب شي. مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې يو بل ايمان تازه کوونکے جواب ليکلے دے، هغه دا دے چې اوګورئ! شفاعت به د چا نصيب کيږي؟ صرف د مسلمان به نصيب کيږي، کافر د شفاعت حقدار نه دے. اوس لږ غور اوکړئ! شفاعت د هر ګنهګار د پاره دے خو صرف د هغوئي د پاره څوک چې د دنيا نه د ايمان په حالت کښې تلي وي، اوس مونږه کښې څوک هم د الله پاک د پټ تدبير نه خبر نه يو، الله پاک دې زمونږه ايمان سلامت کړي، څوک چې ګنهګاران دي ممکنه ده چې هغوئي د خپلو ګناهونو په وجه د ايمان نه خلاص شي، د دنيا نه د رخصتيدو په

وخت د هغوئي نه ايمان واخستے شي، که چرې داسې اوشول نو ظاهره ده
چې د هغوئي به شفاعت نه نصيب کيږي، هغوئي ټول عمر د شفاعت اُميد
اوساتو خو اوس د ايمان په حالت کښې د دنيا نه رخصت نه شو، اوس به
هغوئي د شفاعت نه محرومه شي خو آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مدينې منورې ته
د حاضريدو سره د روضې مبارکې زيارت کوونکو له زيرے ورکړو او
اوئې فرمائيل: وَجَبَتۡ لَهُ شَفَاعَتِيۡ د هغوئي د پاره به زما شفاعت واجب شي.

د واجب کيدو معنٰى ده: ضرور به ورته ميلاويږي. مولانا نقي علي
خان رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: اوس به د حديثِ پاک دا مطلب جوړيږي چې چا
د ايمان په حالت کښې د روضے مبارکې زيارت اوکړو، اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيۡم! د
الله پاک محبوب، زمونږه خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هغوئي د ايمان
حفاظت هم کوي او د هغوئي ته به شفاعت ضرور نصيب کيږي.[1]

محشر ميں حساب آه! ميں دے ہی نہ سکوں گا
رحمت نہ ہوئی ہو گا جہنّم ميں ٹھکانا

فرمائيں گے جس وقت غلاموں کی شفاعت
ميں بھی ہوں غلام آپ کا مجھ کو نہ بھلانا

فرما کے شفاعت مری اے شافعِ محشر
دوزخ سے بچا کر مجھے جنّت ميں بسانا

## شفاعتِ مصطفٰے! مرحبا ... ! مرحبا...!!

مدني ګل نمبر2: اے عاشقانِ رسول! په دې حديث کښې يو بل ايمان



[1] ...جواہر البیان فی اسرار الارکان، صفحه: 206،205ملتقطاً۔

www.dawateislami.net

تازه کوونکے مدني ګل دے، هغه دا دے چې د حشر په میدان کښې به شفاعت ډیر خلق کوي. شفاعت کبریٰ زمونږ د خوږ آقا مکي مدني مصطفٰی صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره خاص دے یعني د شفاعت د شروع کولو دروازه به حضورِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بیرته کوي، دې نه پس به نور نبیان هم شفاعت کوي، فرښتې به هم شفاعت کوي، عالمَان به هم شفاعت کوي، شهیدان به هم شفاعت کوي، حاجیان به هم شفاعت کوي، با عمله حافظِ قرآن به هم شفاعت کوي.

خو مدینې منورې ته د تلوونکي څه ښکلے شان دے، خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: **مَنْ زَارَ قَبْرِي وَجَبَتْ لَهُ شَفَاعَتِي** یعني څوک چې زما د قبر زیارت اوکړي نو د هغوئي د پاره زما شفاعت واجب شو.[1]

دلته لفظ **شَفَاعَتِی** دے، د دې مطلب دا جوړیږي چې د روضے مبارکې د زیارت کوونکي شفاعت به عالمَان نه کوي، فرښتې نه کوي، شهیدان نه کوي، حاجیان یا حافظان به نه کوي بلکه د هغوئي شفاعت به پخپله د نبیانو سردار، رسولِ خدا، احمدِ مجتبٰی صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کوي.[2]

سُبْحٰنَ اللّٰه! دا هم لوئ سعادت دے چې حضورِ اکرم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ

323

[1] … سنن دار قطنی، کتاب الحج، باب المواقیت، جلد:1، صفحه:217، حدیث:2669۔

[2] … جواہر البیان فی اسرار الارکان، صفحه:205ملتقطاً۔

وَسَلَّم به ېخپله د هغوئي شفاعت کوي ځکه چې د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شفاعت انداز به د نورو نه جدا وي، د دې خوند به جدا وي، د هغې شوق به عجيبه وي، اعلیٰ حضرت امام اهلِسُنَّت شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي:

کیا ہی ذوق افزا شفاعت ہے تمہاری واہ واہ | قرض لیتی ہے گنہ پرہیز گاری واہ واہ[1]

**وضاحت:** مطلب دا دے چې کله رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قيامت په ورځ د حشر په ميدان کښې د خلقو شفاعت کوي نو د هغوئي د شفاعت کولو انداز، د هغې مزه او د هغې شوق به داسې جدا او عجيبه وي چې هغه خلق خوک چې بخښلے شوي وي، چا چې ګناه نه وي کړي، خوک چې به بے حسابه جنّت ته د تللو حقدار وي، خوک چې به پرهيزګاره وي، هغوئي چې کله د شفاعت دا مزه اووينې نو ارمان به کوي چې کاش! زمونږ په تله (چابړئ) کښې هم ګناه راشي او مونږ ته هم د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شفاعت نصيب شي.

بهر حال! د حديثِ پاک نه معلومه شوه چې کوم بنده د روضے مبارکې د زيارت سعادت حاصل کړي، هغوئي ته به د بل چا نه بلکه ېخپله د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شفاعت نصيب کيږي، سُبْحٰنَ اللّٰه! الله پاک دې رانصيب کړي.

323

[1] ... حدائق بخشش، صفحه:134۔

## چې نیت صرف د زیارتِ اقدس وي

د حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روایت دے، رسولِ رحمت، شفیعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: مَنۡ جَاءَنِي زَائِرًا خوک چې زما دربار ته د زیارت کولو د پاره حاضر شو لَا تُعۡمِلُهُ حَاجَةٌ اِلَّا زِيَارَتِي د دې نه علاوه د هغه بل څه حاجت نه وي (یعني نه د تجارت د پاره راغلے وي، نه د بل څه مقصد د پاره راغلے وي) صرف او صرف زما د زیارت د پاره مدینې منورې ته راغلو كَانَ حَقّاً عَلَيَّ اَنۡ اَكُونَ لَهُ شَفِيعاً يَوۡمَ الۡقِيَامَةِ په ما حق دے چې د قیامت په ورځ زه د هغه شفاعت اوکړم. [1]

## د قیامت په ورځ د آقا کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ګاؤنډ میلاؤ شي

یو روایت کښې ئې اوفرمائیل: كَانَ فِي جِوَارِي يَوۡمَ الۡقِيَامَةِ یعني څوک چې خاص زما د زیارت د پاره مدینے منورې ته راغلو هغوئې به د قیامت په ورځ زما د رحمت د سورې لاندې وي. [2]

د دې حدیثِ پاک لاندې عالمَان صاحبان فرمائي: په دې حدیثِ پاک به پوره پوره عمل هله کیږي چې بنده د مسجدِ نبوي نیت هم اونکړي

323

[1] … معجم اوسط، من اسمه عبدان، جلد: 3، صفحه: 266، حدیث: 4546۔

[2] … شُعب الایمان، باب فی المناسک، فضل الحج والعمرة، جلد: 3، صفحه: 488، حدیث: 4152۔

بلکه بنده له پکار دي چې کله د مدينې منورې په لور سفر شروع کړي نو صرف او صرف د روضے مبارکې د زيارت نيت اوکړي، مسجدِ نبوي شريف کښې به د لمُونځونو ادا کولو سَعادت ضمناً ميلاؤ شي، په مسجدِ قُبا کښې چې لمُونځ ادا کړي نو د عمرې ثواب ګټلو سعادت به ورته هم ضمناً ميلاؤ شي خو چې د هغوئي نِيَّت صرف يو وي چې زه د روضے مبارکې د زيارت د پاره راغلے يم. سُبْحٰنَ اللّٰه!

کعبہ کا نام تک نہ لیا طیبہ ہی کہا | پوچھا تھا ہم سے جس نے کہ نَہْضَت کدھر کی ہے[1]

**وضاحت**: يعني کله چې زما نه اوپوښتلے شو چې د کوم ځائے اراده ده نو ما دا اونه وئيل چې حج له ځم، يا د کعبې زيارت د پاره ځم بلکه زما هم يو جواب وو، دا چې زه د مدينې د جانان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پاک دربار شريف له ځم.

## د آخرت د حساب نه نجات (خلاصے)

اے عاشقانِ رسول! راځئ! مدينې منورې ته حاضريږو او د روضے مبارکې د زيارت يو بل او ښکلے فضيلت اورو: د حضرت عبدُ الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے: د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي، صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: مَنْ حَجَّ حَجَّةَ الْاِسْلَامِ وَزَارَ قَبْرِي وَغَزَا غَزْوَةً وَصَلَّى عَلَيَّ فِي بَيْتِ الْمَقْدِسِ چا چې حج اوکړو او زما د قبر زيارت ئې اوکړو او هغوئي په



[1] ... حدائق بخشش، صفحه: 203۔

www.dawateislami.net

جهاد کښې برخه واخستله او بیتُ المُقدس کښې پاتې شو او په ما ئې درود شریف اولوستلو لَمۡ یَسۡاَلۡهُ اللّٰهُ عَمَّا افۡتَرَضَ عَلَیۡهِ نو د هغوئې نه به د قیامت په ورځ د فرائضو په باره کښې پوښتنه نه کیږي.[1]

حضورِ کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا 4 کارونه ارشاد اوفرمائیل: **(1)**: چا چې حج اوکړو **(2)** چا چې زما د قبر زیارت اوکړو **(3)** چا چې جهاد کښې حِصَّه واخستله **(4)** څوک چې بیتُ المُقدس (یعني مسجدِ اقصٰی) ته لاړو او په ما ئې درود اولوستلو. دا 4 کارونه چې کوم بنده اوکړي د هغه نه به د قیامت په ورځ د فرضو په باره کښې پوښتنه نه کیږي، عالمَان فرمائي: چې کله د هغه نه د فرضو په باره کښې پوښتنه نه کیږي نو د واجباتو، سنتو او مستحباتو په باره کښې خو به هډو د سره پوښتنه نه کیږي، مطلب دا چې یو بنده دا 4 کارونه کوي، نو هغه به د قیامت په ورځ بے حسابه بخښلے شي او عالمَان صاحبان دا هم فرمائي چې مطلب دا نه دے: چا چې دا 4 واړه کارونه اوکړه هم هغوئې ته به دا فضیلت میلاویږي، داسې نه ده بلکه په دې څلورو واړو کارونو کښې چې یو کار هم بنده اوکړي هغه ته به هم دا فضیلت میلاویږي ۞ کوم بنده چې حج اوکړي د هغه نه به هم د قیامت په ورځ پوښتنه نه کیږي ۞ څوک چې د رسول



[1]... لسان المیزان، جلد:2، صفحه:265، حدیث:1405۔

www.dawateislami.net

الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د روضے مبارکې زيارت اوکړي د هغه نه به هم د قيامت په ورځ پوښتنه نه کيږي ۞ څوک چې په جهاد کښې برخه [يعني حِصّه] واخلي د هغوئي نه به هم پوښتنه نه کيږي ۞ او څوک چې بيتُ المُقدس ته لاړ شي او په نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې درود شريف اولولي د هغوئي نه به هم د قيامت په ورځ پوښتنه نه کيږي.

## د دوؤ قبول شوؤ حجونو ثواب

خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: مَنْ حَجَّ إِلَى مَكَّةَ ثُمَّ قَصَدَنِي فِي مَسْجِدِي كُتِبَتْ لَهُ حِجَّتَانِ مَبْرُورَتَانِ کوم بنده چې مکې مکرمې ته اورسيدلو، حج ئې اوکړو بيا هغه زما د جمات اراده اوکړه، (مدينې منورې ته راغلو) د هغوئي د پاره به د دوؤ قبول شوؤ حجونو ثواب ليکلے شي. [1]

سُبْحٰنَ الله! اے عاشقانِ رسول! لږ غور اوکړئ! په يو حج څومره محنت کيږي، په لکونو روپۍ لګي، د سفر کولو سختۍ زغملے شي، د کعبې طواف کول وي، صفا او مروه کښې سعي کول وي، مِنٰى کښې قرباني کول، مزدلفه کښې قيام کول، ميدانِ عرفات کښې قيام کول، دومره سختۍ ئې اوزغملې او لکونه روپۍ ئې اولګولې، د دې باوجود حج قبول شو که نه؟ چا ته پته نشته خو دا فضيلت اوګورئ! کوم بنده چې حج اوکړي، د حج

323

[1]...کنز العمال، کتاب الحج، جز:5، جلد:3، صفحه:52، حديث:12366۔

کولو نه پس مدينے منورې ته لاړ شي نو هغه ته به د يو نه د دوؤ حجونو ثواب ميلاؤيږي او حج هم هغه د کوم په باره کښې چې شک نشته چې قبول شوے به وي او که نه بلکه د دوؤ قبول شوو حجونو ثواب به هغه له ورکولے شي.

حاجيو! آؤ شهنشاه کا رَوضه ديکهو | کعبه تو ديکه چکے کعبَہ کا کعبَہ ديکهو[1]

## ايمان به د مدينې په لور راټول شي

په بخاري شريف کښې حديثِ پاک دے، حضرت ابوهريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ روايت کوي: اِنَّ الْاِيمَانَ لَيَاْرِزُ اِلَى الْمَدِينَةِ كَمَا تَاْرِزُ الْحَيَّةُ اِلَى جُحْرِهَا بيشکه ايمان مدينے طرف ته راټوليږي ځنګه چې مار خپلې سورې طرف ته راټوليږي.[2]

دا ډير ايمان تازه کوونکے حديثِ پاک دے، عُلمائے کرامو د دې مختلفې معنې بيان کړې دي، يوه معنٰی خو دا ده چې قيامت ته نزدې کله چې دجال راووځي، ټوله دنيا کښې به د ايمان بچ کولو د پاره د پټيدو يو ځائے هم نه وي، هغه وخت به ايمان په مدينه منوره کښې راټول شي، د مدينې نه علاوه به ايمان والا چرته هم نه وي.

محدثينو صاحبانو د دې يوه بله معنٰی بيان کړې ده: فرمائي: آقا صَلَّی اللّٰہ



[1]… حدائق بخشش، صفحه:127۔

[2]… بخاری، کتاب فضائل المدينه، صفحه:498، حديث:1876۔

www.dawateislami.net

عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مدينه کښې ايمان راټوليدو ته د مار سره تشبيه ورکړې ده، يعني فرمائي چې څنګه مار په خپله سوړه کښې ننوځي، داسې به ايمان مدينې ته لاړ شي، لږ غور اوکړئ! مار د خپلې سوړې نه لږ بهر را اووځي، د خپل ضرورت څيزونه اخلي، خوراک وغيره هغه ته لټول وي، هغه ئې لټوي، بهر په ګرځيدو ګرځيدو په هغه لمَر لګي، ګرمي ئې کيږي، دوړه پرې لګي چې د هغې په وجه ئې څرمن زَړيږي، په کال کښې څه حصه هغه داسې تيروي چې هغه پټيږي، بهر نه را اووځي، کله چې د خپل وخت پوره کولو نه پس هغه بهر راووځي نو د هغه وجود بدل شوے وي، زَړه څرمن ئې اووځي، نوې تازه پړق وهونکې څرمن د هغه د پاسه راشي.

دا خبره په حديثِ پاک کښې هم وئيلے شوې ده چې څنګه مار خپلې سوړې ته ځي نو د هغه څرمن تازه او پړقيدونکې شي، هم داسې چې کله بنده په دُنيا کښې وي، په نورو ښارونو کښې اوسيږي نو په هغه باندې شيطان هم حمله کوي، نفس پرې ګناه هم کوي، دنيا طرف ته ئې زړه ځي، د کومې په وجه چې ايمان کمزورے کيدل شروع شي، بيا د ايمان تازه کولو ضرورت وي او دا تازه والے څنګه ميلاويږي؟ اوئې فرمائيل: اِنَّ الۡاِيۡمَانَ لَيَاۡرِزُ اِلَى الۡمَدِيۡنَةِ ايمان مدينې طرف ته راټوليږي. يعني عاشقانِ رسول دنيا کښې اوسيږي په نورو ښارونو کښې، په خپلو خپلو

علاقو کښې اوسيږي، هلته د هغوئي د دنيادارانو سره هم واسطه راځي، د شيطان سره ئې هم واسطه راځي، نفس ئې هم زخمي کوي، اوس د هغه ايمان کمزورے کيدل شروع شي، بيا هغه مديني منورې ته ځي نو د مديني منورې آب و هوا داسې ښکلي او داسې ايمان تازه کوونکې ده چې د دې په برکت سره ايمان بيا تازه کيدل شروع شي.

## د مدينې د کجورو سره د ايمان تازه کيدل

عظيم عاشقِ رسول، حضرت مُحَدِّثِ اعظم پاکستان مولانا سردار احمد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د مدينې منورې سره ډيره مينه کوله، د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په محفل کښې به اکثر د مدينې منورې ذکر کيدلو، که چرې څوک د مدينې منورې زيارت کوونکے به د هغوئي په خدمت کښې حاضر شو نو د هغوئي نه به ئې د مدينې منورې د حالاتو پوښتنه کوله، مدينه منوره کښې د اوسيدونکو عاشقانِ رسول خيريت به ئې معلومولو او که چرې تبرک به وړاندې کړے شو نو ډير په خوشحالئ به ئې قبلولو. يو ځل يو حاجي صاحب د مدينې منورې نه واپس راغلے، هغوئي کجورې راوړې او د حضرت مُحَدِّثِ اعظم پاکستان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې ئې وړاندې کړې، هغه وخت دورۀ حديث روان وو (يعني کلاس لګيدلے وو) او مُحَدِّثِ اعظم پاکستان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه حديث شريف ښودلو، هغوئي د مدينې منورې کجورې

ټولو طالب علمانو له ورکړې او بيا ئې يوه کجوره په خپلو غاښونو کښې اونيوله او اوئې فرمائيل: خرمائے مدينه (يعني د مدينې کجورې) تر څو چې ته لړه لړه دننه ځې، ايمان به تازه کيږي. (1)

ہوائیں آ رہی ہیں کوچۂ پُرنورِ جاناں کی | کِھلی جاتی ہیں کلیاں، تازگی دِل کو میسر ہے[2]

سُبْحٰنَ اللّٰه! پته اولګيده! څوک چې عاشقان دي، د هغوئي ايمان خو د مدينے د نوم سره هم تازه کيږي، د عاشقانو ايمان د مدينے منورې د څيزونو کتلو سره د مدينے منورې نه د راغلو تبرکاتو د ليدو سره د مدينے منورې د کجورو خوړلو سره خپل ښار کښې هم د پاتې کيدو سره د هغوئي ايمان تازه کيږي، نو چې بيا کله هغوئي مدينے منورې ته لاړ شي نو د ايمان د تازه کيدو به ئې څه حال وي؟

## مدينه کښې د مړ کيدو خواهش

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! الله پاک دې مونږ ته عشقِ مدينه نصيب کړي! د مدينے منورې په يادونو کښې ترپيدل پکار دي، د مدينے منورې د حاضرئ د پاره خوشحاليدل پکار دي، د مدينے منورې د زمکې



1 … حياتِ محدث اعظم پاکستان، صفحه:155۔

2 … ذوقِ نعت، صفحه:256۔

د اهمیت اندازه د دې خبرې نه اولګوئ چې زمونږ خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: د چا نه چې کیدے شي نو مدینه منوره کښې دې مړ شي، ځکه چې زه به د مدینے منورې د خلقو شفاعت کووم.[1]

د محدثِ اعظم پاکستان رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه عشقِ رسول د کمال دے، کله چې د مدینې منورې حاضرې اوشوه، نو هغوئي څه ویښته او نوکان مدینه منوره کښې خخ کړه او د رسولِ کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې ئې عرض اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مدینه منوره کښې مړه کیدل خو زما په اختیار کښې نه دي، البته د خپل بدن ځینې اجزاء دفن کووم او ځم چې زمونږ د غریبانانو د پاره دا غنیمت دے.[2]

طیبہ میں مر کے ٹھنڈے چلے جاؤ آنکھیں بند | سیدھی سڑک یہ شہرِ شفاعت نگر کی ہے[3]

**وضاحت**: یعني اے د مدینے زیارت کوونکو! دلته کښینئ او په دې دُرشل عمر تیر کړئ او مطمئین شئ چې نیغ به جنت ته ځئ ځکه چې دا د جنت لاره ده.

الله پاک دې مونږ ته عشقِ مدینه نصیب کړي، شوقِ مدینه دې نصیب کړي، کاش! مدینه منوره کښې بیا بیا، بیا بیا حاضري وي، آخر

323

[1]…ترمذی، کتاب المناقب، صفحه:879، حدیث:3920۔

[2]…حیاتِ محدث اعظم پاکستان، صفحه:155۔

[3]…حدائق بخشش، صفحه:222۔

کښې په بقیعِ پاک کښې دوه ګزه زمکه میلاؤ شي، اللّٰه پاک دې مونږ ټولو ته د عشقِ مدینه، شوقِ مدینه، ذکرِ مدینه، فکرِ مدینه، یادِ مدینه دولت نصیب کړي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: د سحر لمُونځ د پاره رابیدارول

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! د عشقِ مدینه موندلو د پاره د عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوتِ اسلامي دیني ماحول سره تړون اختیار کړئ، او د ذیلي حلقے 12 دیني کارونو کښې ښه په خوشحالئ حِصَّه واخلئ! اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِیۡم! د دنیا او آخرت بیشمیره برکتونه به درنصیب شي. 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: د سحر لمَانځه د پاره پاڅول (یعني مسلمانان د سحر لمانځه د پارهرابیدارول) دي.

اے عاشقانِ رسول! مسلمانان د سحر د لمَانځه د پاره پاڅول د رسولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت دي، مسلمانان د سحر لمَانځه د پاره پاڅول سُنّتِ داؤدي دي، مسلمانان د سحر لمَانځه د پاره پاڅول سُنَّتِ حیدري او سُنَّتِ فاروقي دي، د مسلمانانو دویم خلیفه، حضرت عمرِ فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ به د سحر د لمَانځه د پاره خلق راپاڅول او جمات ته به ئې تشریف وړلو.[1]

راځئ! د ترغیب په طور یو مدني سپرلے اورو:



[1]… طبقات الکبری، ذکر استخلاف عمر، جلد:3،صفحه:263مفهوماً۔

www.dawateislami.net

## د مديني منورې د حاضرئ سعادت ميلاؤ شو

د پنجاب د اِلٰه آباد علاقې (ضلع قصور ) د يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده: اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زه د دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې خو ووم خو د ديني کارونو په سلسله کښې سُست ووم، يوه ورځ يو ذمه وار اسلامي ورور زما د پوهه کولو سره د ديني کار کولو او خاص طور **د سحر د لَمَانځه د پاره د مسلمانانو د راپاځولو د ديني کار** د پوره پابندئ کولو ترغيت راکړو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زما ذهن جوړ شو او ما د بلې ورځې نه په دې عمل شروع کړو. د سحر لَمَانځه د پاره مې د مسلمانانو د راپاځولو کار ځه شروع کړو چې، بخت مې رابيدار شو او هم هغه کال ما ته د مدينے منورې د حاضرئ سعادت نصيب شو، په دې لا نور کرم دا هم اوشو چې زما مشر ورور ته د حج کولو سعادت نصيب شو.

عطائے حبیبِ خُدامدنی ماحول | ہے فیضانِ غوث و رضا مدنی ماحول
سنور جائے گی آخرت اِنْ شَآءَاللّٰہُ! | تم اپنائے رکھو سدا مدنی ماحول

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د حج او عمرې موبائل ايپلي کيشن تعارُف

اے عاشقانِ رسول! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ

اسلامي د جدید ټیکنالوجۍ په ذریعه هم د علمِ دین عام کولو کوشش کوي. په دې سلسله کښې د دعوتِ اسلامي آئي ټي ډیپارټمنټ مختلف موبائل ایپلي کیشنز جاري کړي دي، دې کښې یو ایپلي کیشن حج او عمره دے.

د دې ایپلي کیشن په مدد تاسو د حج او عمرې مختصر طریقه ۞ د حج او عمرې ضروري مسائل وغیره زده کولے شئ ۞ د دې نه علاوه دې موبائل ایپلي کیشن کښې د حج او عمرې دُعاګانې ۞ د حرمین شریفین د مُقَدَّسو ځایونو معلومات وغیره هم شامل دي ۞ د دې موبائل ایپلي کیشن یو ډیر اهم خاصیت دا دے چې دې کښې د تهري ډِي ویډیوز په ذریعه د حج او عمرې عملي طریقه هم ښودلے شوې ده. دا ایپلي کیشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ، د دې نه فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغیب ورکړئ.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بیان په آخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د بعضو آدابو بیانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو، هغه زما سره محبت اوکړو

او چا چې زما سره محبت اوکړو، هغه به په جنّت کښې زما سره وي.[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## د عمامې شريفې سُنَّتونه او آداب

**دوه فرامينِ مصطفٰی** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: **(1)** عِمامې سره لمُونځ د لس زره نيکو برابر دے.[2] **(2)** عِمامه تړئ! ستاسو حِلم به زياتيږي[3]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** عمامه په ولاړه تړئ او پاجامه په ناسته اغوندئ ۞ چا چې د دې اُلټا عمل اوکړو هغه به په داسې مرض کښې اخته شي چې دوا به ئې نه وي (يعني طبيبانو ته به ئې د دوا علم نه وي) ۞ د عمامې تړلو نه مخکښې ښه ښه نيتونه اوکړئ که يو هم صحيح نيت نه وو نو ثواب به نه ميلاويږي ۞ مناسب دا دې چې د عمامې ول د سر ښي طرف ته لاړ شي ۞ د اللّٰه پاك آخري رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارکې عمامې شمله به عام طور د (مبارکې ملا) په شا وه، کله کله به ښي طرف ته، کله به د دواړو اوګو تر مينځه دوه شملے وے ۞ کينړ [يعني کڼ] طرف ته شمله زوړندول خِلافِ سُنَّت دي ۞ د عمامے د شملے



[1]...مشكوٰة، كتابُ:الْإِيمان، بابُ:الْاِعْتِصَام، جلد:1، صفحه:55، حديث:175۔
[2]...مسندالفردوس، جلد:2، صفحه:406، حديث:3805۔
[3]...مستدرک، کتاب:اللباس، جلد:5، صفحه:272، حديث:7488۔

مقدار کم نه کم څلور ګوتې او زیاتو نه زیات (د ملا د نیمې پورې تقریباً) یو لاس (د لاس مینځنۍ ګوتې د سر نه واخله تر څنګل پورې ناپ ته یو لاس وائي)، ۞ عمامه مخ په قبله په ولاړه ولاړه تړئ ۞ په مرآت شریف کښې دي: عمامه شریف په ولاړه ولاړه تړل سُنَّت دي، په جمات کښې ئې تړئ یا چرته بل ځائ او ۞ په عمامه کښې سُنَّت دا دي چې د دوه نیم ګزه نه کمه نه وي، او نه د شپږو ګزو نه زیاته وي او د دې بناوټ (شکل) ګنبد نما وي.[1]

د مختلفو سُنَّتو زده کولو د پاره د مکتبةُ المَدینه "**بهارِ شریعت** جلد3 حصَّه 16" او شیخِ طریقَت، اَمیرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَۃ د 91 صفحو رساله **550 سُنَّتیں اور آداب** واخلئ او مطالَعه ئې اوکړئ.

د سُنَّتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه په مدني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سُنَّتو ډك سفر هم دے. الله پاك دې د عمل کولو توفیق را عطا کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

323

[1]...550سنتیں اور آداب، صفحه:5654ملتقطاً۔

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْـحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمعے او زیارت مینځنۍ شپه باندے) دا دُرُود شریف پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

### ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دے چې تاجدارِمدینه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښیناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.



1 . . . افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

### ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو: صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

### ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو.

### ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَ تَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اكبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا خوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.



1...القول البديع، الباب الثاني، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

3...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

www.dawateislami.net

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوک چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ! چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

323

1 ...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ٣٢٩/٢، حديث:٣٠

2 ... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ٢٥٤/١٠، حديث:١٧٣٠٥

3 ... تاريخ ابنِ عساكر، ١٥٥/١٩، حديث:٤٤١٥